# ستاسو
# مېلمستیا، غېرت او پښتو ته سلام

حسن بونېرے

۲۸ اپرېل ۲۰۰۹ء د پښتنو د تاریخ یو نۀ هېرېدونکې ورځ ده او لکه د بابړې او قیصه خوانۍ د شهیدانو په شان به د پښتون قام په تاریخ کښې تل ترتله یادېږي. ولې چې په دې ورځ نۀ یواځې د بونېر سوات او دیر پښتانۀ ماشومان، خوئېندو، مئېندو او سپین ږیرو د ترځیګر خلاف خپل کور، مال، کلے او حجرې پرېښودې ابلې پښې او په سرتور سر د یو لوئے او نۀ هېرېدونکي هجرت په لور روان شول، دوي دا هر څۀ د خپلې خاورې او وطن دپاره وکړل او دنیا ته ئې دا خبره څرګنده کړه چې ترهګر مونږ نۀ یو، مونږ ټول یو پرامنه او د عدم تشدد پېروکاران یو او د باچا خان د قافلې سپاهیان یو.

د ۲۸ اپرېل نه واخله تر ۸ مۍ پورې د ټولې دنیا پرنټ او الیکټرانک میډیا کۀ یو طرف ته دې ته د دنیا د ټولو نه غټ هجرت ووئیلو، ولې بل طرف ته د دنیا د یو ډېر مشهور اخبار واشنګټن پوسټ اداریه چې سرلیک ئې د Pukhtoon Hospitality وه. دې ادارئې زۀ حېران کړم او په دې ئې مجبوره کړم چې د هغې تکلیفونو نه وروستو کوم چې زمونږ د پارټۍ مشرانو ته پته ده چې په ټول قام او بیا زمونږ په کور تېر شول څۀ ولیکم.

کله چې ما دننه په پاڼه دغه خبر ولوستو نو حېران پاتې شوم ځکه چې کله د سوات، بونېر او دیر په لکونو خلق مردان، صوابۍ ته را روان وو، هم په دغه وخت چې زمونږ ګاډے د بونېر کنګر ګلۍ نه د پلۍ په لاره مردان ته راتلو نو زما سره دا فکر ؤ چې خدائے دې خبر کړي چې څوک شتمن دي نو هغه خو به ښاریو ته لاړ شي ولې دا خوار غریب او بې کوره پښتانۀ به څۀ کوي. ولې د هغې ځواب د مردان، صوابۍ هغې غېرتمندو پښتنو هم ماله او هم ټولې دنیا ته ورکړو چې مونږ پښتانۀ یو او پښتانۀ په خپل کور راغلیو مېلمنو ته د زړۀ غوښې ورکوي او دنیا ته ئې دا پېغام ورکړو چې مونږ ټول یو وجود، یو موټے او یو تن یو. په مونږ کښې هېڅوک پردے نشته او د مردان، صوابۍ ځوانانو، ماشومانو، بوډاګانو او تور سرو د مدینة الانصار سره ځان په یو صف کښې ودرولو او دا خبره ئې سپینه کړه چې پښتو او اسلام سره د یو عکس دوه اړخونه دي.

د سوات، بونېر او دیر نه راغلیو خلقو ته د مردان، صوابۍ او نوښار خلقو یواځې په خپلو کورونو، حجرو کښې یواځې ځائے نۀ بلکې دوي ته په خپلو زړونو کښې ځائے ورکړو او ما په خپله د دې ځائے د مشرانو نه دا واورېدل چې دا متاثرین نۀ بلکې زمونږ مېلمانۀ دي او دا په مونږ د الله تعالي یو لوئے امتحان دے او الله تعالي په هغه چا امتحان راولي څوک چې ئې خوښ شي. د دې خلقو د پښتونولۍ، مرانې او مېلمستیا خو ډېر نۀ

هېرېدونکي قيصې دي، ولې دا يو دوه مثالونه چې په يو کور کښې غم شوے ؤ، د هغوي ځوان زلمے هلک مړ ؤ، لېکن چې کله اپرېشن شروع شو نو په ځائے د دې چې هغوي په بونېر کښې خپلو دوستانو پښتنو ورونړو ته د غم استاذے ورولېږي هغوي ورته اطلاع ورکړه چې مونږ د خپل کور ځلور کمرې تاسو ته خالي کړې دي او چې کله دا مېلمانهٔ راغلي او خبر شو نو د دوي د قربانئ ته ګوته په خُلهٔ پاتې شو، هم دغه رنګې چې کله زهٔ د کاټلنګ د پي ايف ۲۸ د پارټئ د مشرانو سره د کوهي برمول کلي ته لاړم نو دغلته يوې اتيا کلنې بوډئ چې له بونېر نه راغلې وه يوه ډېره تاريخي خبره وکړه، هغې وې بچيه! دا د پښتنو وطن دے او د نن زمانې نوي کول د پښتنو روايات هېر کړي وو، مونږ دلته راغلو ولې زهٔ خفه نهٔ يم، دا هم زمونږ وطن دے، زمونږ کور دے، مونږ هجرت نهٔ دے کړے، بلکې مونږ د يو کور نه خپل بل کور ته راغلي يو او ولې تهٔ نهٔ ئې خبر چې د پښتنو بادشاهانو به په اوړي قندهار او په ژمي پېښور مرکز ؤ. هم دغې ابئ راته وې چې بچيه! د نن نه ۷۰ کاله مخکښې کله چې زهٔ ډېره وړه وم، هم مونږ د بونېر نه مردان ته د والي سوات د پلار باچا صاحب او د بونېر د سالارزو د خلقو د جنګ جګړې په وجه دلته راغلي وو او هم دا رنګې د دې ځائے پښتنو مو خدمت کړے ؤ. نن د هغې خلقو بچو زمونږ خدمت وکړو او په هغه ځل مونږ دلته پوره يو کال تېر کړے ؤ. ما چې د دغې ابئ دا خبرې واورېدې نو د خفګان په ځائے خوشحاله شوم او هغه په دې چې د سوشيالوجي يا عمرانيات پوهان وايي چې د انسان د يو ځائے نه بل ځائے ته په تګ يعني Migration کهٔ هغه (دننه) (Internal) وي او کهٔ (External)(باهر) ډېرې معاشرتي او سماجي تبديلئ راځي. نو زهٔ هم په دې خوشحاله شوم چې زمونږ هغه معاشرتي اقدار (nominees) او (Value) کوم چې زمونږ نوي نسل هېر کړي وو هغه به بيا را ژوندي شي او هم دغه رنګې به چې کومې نوې خبرې مونږ د ځان سره راوړې وي هغه او د دې ځائے ليدلي او اورېدلې خبرې به سره يو شي او يو نوي (Should Change) معاشرتي تبديلي به رامخکې شي او دا تبديلئ هم د دې ځائے پښتنو (مردان، صوابئ) مونږ ته را په ګوته کړې چې زمونږ ستر باچا خان بابا مونږ ته وئيلي وو " پوره وي او کهٔ سپوره په شريکه به وي" ځکه خو دې غېرت مندو خپل هر څهٔ د مېلمنو سره نيم کړل، کورونه، حجرې ئې ورته حواله کړې.

په دې حقله کهٔ د مردان او صوابئ ضلعې د خلقو سره سره د دې ځائے د عوامي نېشنل پارټئ د مشرانو، کارکنانو، ناظمانو د دغې کار ستاينه ونهٔ کړے شي نو ډېر زياتے به وي. مونږ د هغې اخلاص او مړانې ته دزړهٔ له کومې شاباسے وايو او ولې به نهٔ وايو ځکه چې د سندهـ سندهيانو، د پنجاب پنجابيانو خو مونږ ته دا خبره په ګوته کړه چې لاس چې مات شي غاړې له ځي- زمونږ کور او ګور دواړه دا وطن دے. بل ځائے زمونږ ځائے نشته نو بيا راځئ چې د مردان او صوابئ د خلقو اخلاص او خپله عاجزي ملګري کړو او د خپل خوږ وطن پښتونخوا د ابادئ، سوکالئ او خوشحالئ دپاره يو موټے شو.

مونږ خپلو کښې يووالي، امن، محبت او پښتونولي وښئيو او واشنګټن پوسټ په دې مجبوره کړو چې يو ځل بيا د پښتنو په رواياتو خپله اداريه وليکي.